د انسان د غړو په هر بند صدقه ده

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «د انسان پر هر بند صدقه ده، هره ورځ چې لمر راخېژي، د دوو کسانو ترمنځ جوړجاړی کول صدقه ده، د يو چا سره د هغه پر څاروي بارولو کې مرسته کول، چې پرې سپور شي او يا يې ورسره په بارولو کې مرسته وکړي صدقه ده. ښه او خوږه خبره صدقه ده. هر قدم چې ته يې جومات ته د لمانځه لپاره اخلي صدقه ده او د لارې نه د ضرري شي لرې کول هم صدقه ده».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هر مسلمان هره ورځ مکلف دی چې د خپلو هډوکو د بندونو د شمېر په اندازه صدقه ورکړي چې شکر يې ادا کړي او دا چې روغ يې پيدا کړی او هډوکي يې ورته داسې پيدا کړی چې هر يو بند يې بندولی او خلاصولی شي، دا صدقه د ټولو نېکونو کارونو په ترسره کولو سره ادا کيږي او د مال ورکولو سره تړاو نه لري لکه: د دوو شخړه کوونکو تر منځ روغه او جوړه کول صدقه ده، او دا چې د يو کمزوري سره په سپرلۍ سپربدلو کې مرسته وکړي او يا يې ورسره بار کړي، نو دا ستا لپاره صدقه ده، او نېکه وينا صدقه ده لکه: ذکر، دعا، سلام او داسې نور، او هر قدم چې د لمانځه په لور يې اخلي صدقه ده، او د لارې څخه د ضرري څېز لرې کول صدقه ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66527

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee